# د حضرت یُونس نبی کِتاب ـ ماخذ انبیاء

## د حضرت یُونس د مالِک خُدائ نه تښتېدل

١ ١ د مالِک خُدائ کلام د اِمتی په زوئ یُونس نازل شو،
٢ ”سمدستی د نینوه لوئ ښار ته لاړ شه او د هغې خلاف
زما د فېصلې اعلان وکړه، ځکه چې ما لیدلی دی چې د دغه
ښار خلق څومره بدعمله دی.“ ٣ خو یُونس د مالِک خُدائ
نه وتښتېدو او ترسیس ته روان شو. هغه یافا ښار ته ورسېدو،
هلته هغهٔ وکتل چې یو سمندری جهاز ترسیس ته تلو والا
دے. هغهٔ کرایه ورکړه او سمندری جهاز ته وختو او ترسیس
ته روان شو چې د مالِک خُدائ نه وتښتی. ٤ خو مالِک
خُدائ په سمندر یو لوئ طوفان راوستو، او طوفان دومره تېز
وو چې د جهاز د ماتېدو خطره وه. ٥ د سمندری جهاز
مانړکیان ډېر یرې واخستل او هر یو خپل خُدائ ته چغې
وهلې. او هغوئ د جهاز د وزن سپکولو دپاره سامان سمندر
ته وغورزولو. خو یُونس ښکته کوز شوے وو، هلته هغه په
خوږ خوب اودهٔ پروت وو. ٦ د جهاز مشر هغهٔ له ورغلو
او ورته یې ووئیل چې، ”تهٔ څنګه اودهٔ یې؟ پاڅه او خپل
خُدائ ته سوال وکړه. کېدے شی چې هغه زمونږ خیال
وساتی، او مونږ تباهی نه بچ شُو.“ ٧ د جهاز مانړکیانو یو بل
ته ووئیل چې، ”راځئ چې پچه واچوو چې پته ولګی چې
څوک د دې افت ذمه وار دے.“ نو هغوئ پچه واچوله او پچه
د یُونس د نوم راووتله. ٨ نو هغوئ ورته ووئیل چې، ”مونږ

ته ووايه چې څوک د دې ذمه وار دے چې مونږ ټولو ته يې دا
مصيبت جوړ کړو؟ تۀ څۀ کار کوې؟ تۀ د چرته نه راغلے
يې؟ تۀ د کوم مُلک يې؟ تۀ د کوم قوم يې؟“ ٩ هغۀ جواب
ورکړو، ”زۀ عبرانے يم او زۀ د مالِک خُدائ عبادت کوم، د
آسمانی خُدائ پاک، چا چې زمکه او سمندر پېدا کړی دی.“
١٠ يُونس هغوئ ته دا هم وفرمائيل چې، ”زۀ د مالِک خُدائ
د حضور نه تښتم.“ دې هر څۀ اورېدو سره مسافر سخت
وېرېدل او ورته يې ووئيل، ”دا تا څۀ کړی دی؟“ ١١ د
سمندر چپې لا نورې هم زياتېدې نو هغوئ هغۀ نه تپوس
وکړو، ”مونږ تا سره څۀ وکړُو چې مونږ دپاره دا سمندر په
آرام شی؟“ ١٢ ”ما اوچت کړئ او سمندر ته مې
وغورزوئ،“ يُونس ورته جواب ورکړو، ”نو طوفان به قلار
شی. ما ته پته ده چې دا زما غلطی ده چې په تاسو دا لوئ
طوفان راغلو.“ ١٣ باوجود د دې، هغه سړو چپو وهلو سره
د سمندر غاړې ته د تلو ډېر کوشش وکړو. خو هغوئ ونۀ
رسېدل، ځکه چې سمندر کښې طوفان د مخکښې نه نور هم
خطرناک شو. ١۴ نو هغوئ د يُونس مالِک خُدائ ته چغې
کړې، ”اے مالِکه خُدايه، مونږ د دې سړی د ژوند د ختمولو
په وجه مړۀ نۀ کړې. مونږ د يو بې‌ګناه سړی په مرګ باندې
راونۀ نيسې، ځکه چې اے مالِکه خُدايه، تۀ هغه څۀ کوې څۀ
چې ستا رضا وی.“ ١٥ نو بيا هغوئ يُونس اوچت کړو او
سمندر ته يې وغورزولو، او طوفان سمدستی قلار شو. ١٦
په دې کار هغه خلق د مالِک خُدائ نه ډېر وېرېدل او هغوئ
يوه قربانی پېش کړه او منښتې يې ومنلې. ١٧ خو مالِک
خُدائ يو غټ کب راولېږلو چې يُونس تېر کړی، او يُونس
درې ورځې او درې شپې د کب په ګېډه کښې وو.

## د حضرت یُونس دُعا

۲ ۱ د کب په ګېډه کښې یُونس مالِک خُدائ، خپل خُدائ
پاک ته دُعا وکړه. ۲ هغهٔ وفرمائيل، ”مالِک خُدائ ته ما په
خپل تکليف کښې آواز وکړو، او هغهٔ ما له جواب راکړو. ما
د عالمِ ارواح نه د مدد دپاره آواز وکړو، او تا زما فرياد ته
غوږ ونيولو. ۳ تا زهٔ لاندې ډوبو اوبو کښې د سمندر مينځ
ته وغورزولم، او د سمندر زورَورو چپو زهٔ راګېر کړم، او
هغه ټولې زورَورې چپې چې تا رالېږلې وې په ما تېرې شوې.
۴ ما ووئيل، زهٔ ستا د حضور نه شړلے شوے يم، خو زهٔ
به بيا هم ستا مقدس کور ته ګورمه. ۵ اوبو زهٔ مرۍ پورې
راګېر کړم، سمندر زهٔ ډُوب کړم، او د سمندر واښهٔ زما د
سر نه راتاؤ شُو. ۶ زهٔ لاندې د غرونو بېخ پورې ډوب
شوم، لاندې زمکې زهٔ د همېشه دپاره بنديوان کړم. خو تا زما
ژوند د کندې نه راوويستو، اے زما مالِکه خُدايه. ۷ کله
چې زما ساه وتله، نو اے مالِکه خُدايه ما ته تهٔ ياد وې، او
زما دُعا ستا مقدس کور کښې تا ته دررسيده. ۸ هغه
څوک چې د بې‌کاره بُتانو عبادت کوی، هغوئ د مالِک خُدائ
ټولو رحمونو ته شا کوی. ۹ خو زهٔ به د شُکر ګزارۍ آواز
سره تا ته قربانی وکړم. او څهٔ منښته چې ما منلې ده هغه به
زهٔ پوره کوم. مالِک خُدائ خلاصونکے دے.“ ۱۰ او مالِک
خُدائ کب ته حُکم وکړو، او کب یُونس په اوچه زمکه بهر
وغورزولو.

## د حضرت یُونس نينوه ته تلل

٣ ١ بیا په دویم ځل د مالِک خُدائ کلام په یُونس نازل
شو، ٢ ”د نینوه لوئ ښار ته لاړ شه او هغوئ ته هغه پېغام
واوروه کوم به چې زهٔ تا له درکوم.“ ٣ یُونس د مالِک
خُدائ حُکم ومنلو او نینوه ته لاړو. نو د نینوه ښار دومره
لوئ وو چې د دې نه پېدل تېرېدو درې ورځې پکار وې.
٤ په اوله ورځ چې یُونس په ښار کښې روان وو، هغهٔ
اِعلان وکړو چې، ”تېک څلوېښت ورځې پس به نینوه تباه
شی.“ ٥ د نینوه خلقو د خُدائ پاک په پېغام یقین وکړو.
هغوئ د روژې اعلان وکړو او ټولو لویو او واړو د ټاټ
جامې واچولې چې خپل غم څرګند کړی. ٦ کله چې د
نینوه بادشاه ته د یُونس پېغام ورسېدو، نو هغه د خپل تخت نه
کوز شو، خپله شاهی چُوغه یې وویستله، د ټاټ جامې یې
واغوستلې او په خاورو کښې کښېناستو. ٧ بیا هغهٔ د نینوه
خلقو ته یو فرمان جاری کړو چې، ”د بادشاه او د هغهٔ د
وزیرانو حُکم دے چې، هیچا ته د خوراک څښاک اجازت
نشته. غوا مېښه او ګډې چېلۍ سره سره ټول څناور هم په
دې کښې شامل دی. مهٔ یې خوراک ته پرېږدئ او مهٔ اوبهٔ
ورکوئ. ٨ خو پرېږدئ چې ټول خلق او څناور د ټاټ
جامې واغوندی. او هر یو په راستۍ سره د زړهٔ له کومې
خُدائ پاک ته دُعا وکړی، او هر یو د خپلې بدعملۍ نه واوړی
او ظلم زیاتے پرېږدی. ٩ څهٔ پته لګی؟ کېدے شی چې
خُدائ پاک خپله فېصله بدله کړی او خپل سخت غضب
ختم کړی، او مونږ د تباه کېدو نه بچ شُو.“ ١٠ کله چې
خُدائ پاک ولیدل چې هغوئ څهٔ وکړل او څنګه هغوئ د
خپلو بدو عملونو نه واوړېدل، نو هغه ورحمېدو او په هغوئ
یې هغه تباهی رانهٔ وستله کومه چې هغهٔ وئیلې وه.

# د حضرت يُونس غصه

۴ ۱ خو يُونس په دې ډېر خفه وو او هغه سخت غصه
شو. ۲ هغۀ مالِک خُدائ ته دُعا وکړه، "اے مالِکه خُدايه،
ولې هم دا زما خيال نۀ وو چې تۀ به داسې کوې کله چې زۀ لا
په خپل کور کښې وم؟ نو په هم دې وجه زۀ دومره زر
ترسيس ته وتښتېدم. ما ته پته وه چې تۀ رحمان او رحيم
خُدائ يې، تۀ په غصه کښې صبر کوونکے او د مينې نه ډک
يې، داسې مالِک خُدائ يې چې په افت راالېږلو کښې خپله
فېصله بدلوې. ۳ نو اوس، اے مالِکه خُدايه، ما مړ کړه،
ځکه چې د دې ژوند نه به مرګ ښۀ وى." ۴ مالِک خُدائ
ورته وفرمائيل، "آيا تا ته د غصه کېدو څۀ حق شته؟" ۵
يُونس بهر ووتلو او د ښار د نمرخاتۀ طرف ته په يو ځائ
کښې کښېناستو. هغۀ هلته د ځان دپاره دالان جوړ کړو، او د
هغې د سورې لاندې کښېناستو او اِنتظار يې کولو چې دې
ښار سره به څۀ چل کيږى. ۶ بيا مالِک خُدائ د يو بوټى
بندوبست وکړو او دا يې د يُونس دپاسه لوئ کړو چې د هغۀ
په سر باندې سورے جوړ کړى او د هغۀ غصه سړه کړى، او
يُونس د دې په ليدو ډېر خوشحاله شو. ۷ خو بل سحر
وختى خُدائ پاک يو چينجے راولېږو، چې هغه بوټے يې
وخوړو او هغه بوټے مړاوے شو. ۸ کله چې نمر راوختلو،
نو خُدائ پاک د مشرق د طرف نه توده هوا راولېږله، او د
يُونس په سر نمر دومره تېز لګېدو چې هغه ګرمۍ ووهلو. هغۀ
مرګ وغوښتو، او وې فرمائيل چې، "د دې ژوند نه به زما
دپاره مرګ ښۀ وى." ۹ خو خُدائ پاک يُونس ته وفرمائيل،
"ولې تۀ د دې بوټى په حقله د غصه کېدو څۀ حق لرې؟" "آو،

زۀ يې لرم،“ يُونس ورته وفرمائيل، ”زۀ دومره غصه يم چې د
دې ژوند نه راله مرګ ښۀ دے.“ ١٠ خو مالِک خُدائ ورته
وفرمائيل، ”تۀ په دې بوټى دومره غمګين شوې، اګر چې تا د
دې دپاره څۀ نۀ دى کړى او نۀ دې غټ کړے دے. دا په يوه
شپه کښې زرغون شو او په يوه شپه کښې اوچ شو. ١١ خو
په نينوه کښې د يو سل او شلو زره نه زيات خلق اوسيږى
څوک چې په ښۀ او بد نۀ پوهيږى، او ورسره ډېر څناور هم
دى. ولې ما ته دا نۀ دى پکار چې زۀ په دغه غټ ښار رحم
وکړم؟“

pashtobibles.org © يوسفزى ٢٠١٩